# زېری

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

سه‌شنبه، (۱۹- ۲۰مه) گڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳٦۳- ۳٦۴مه) گڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د جدي(مرغومي) د مياشتې ۳۰مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د جماديالثاني د مياشتې ۵مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د جنورۍ ۱۹مه.


**د اداري يادښت:** د ۱۳۹۹ لمريز کال د جدي مياشتې (۱۹- ۲۰مه) گڼه چې په ۱۳۹۹ لمريز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېده، د چاپ د ځنډ او وروسته په هېواد کې د سياسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وه، د اسلامي امارت له راتگ سره دا دی تر بيا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

# په ادبي تاريخ کې د تدريجي تحول د نظريې مفهوم (لومړۍ برخه)



ژباړن: سيدنظيم سيدي

د (تېرو) پنځوسو او يا شپېتو کلونو په حدودو کې د ادبي تاريخ ليکل معمول او متبارز و، خو اوس مهال په لوېديځې نړۍ کې دا نظريه په ټوله معنا متروکه شوې ده، لکه څنگه چې د ادبي تاريخونو او د ادبي ډولونو(انواعو) تاريخونو تازه کتابونه هم په دې نظريې سره نه دي ليکل شوي، يوازې د دوو ليکوالو آثار له دې امر نه مستثنى دي؛ يو يې باتسن چې (انگليسي شعر او انگليسي ژبه "۱۹۳۴م اکسفورډ" او انگريزي اشعارو لپاره انتقادي کتنه"۱۹۵۰م لندن" تر سرليکونو لاندې چې په هغې کې شعر د ژبنې يا ټولنيز تطور د هينداره په توگه تشريح شوی دی او بل يې د جوزفين مايلز ليکنې دي چې "د شعر کلمې"، (۱۹۴٦م برکلي)، (د شعر د ژبې تداوم (۱۹۵۱م برکلي)، د انگريزي شعر دورې تر سرليک لاندې مقاله، د معاصرې ژبپوهنې د ټولنې د انتشاراتو مجله (۷۰- ۱۹۵۵م ۵۳- ۷۵) گڼو کې چې په هغې کې د شعري کلمو او جملو احصائيوي فهرست راغلی دی.

په ادبي تاريخ کې د تدريجي تحول د نظريې له منلو څخه د انکار د لاملونو د تدقيق لپاره غوره ده چې د دغې نظريې پيدايښت او تاريخ ته په لنډه توگه وکتل شي.

د تدريجي تحول نظريې ته تر ټولو خورا لرغونې نغوته د ارسطو په بوطيقا کې ليدل کېږي، ارسطو په دې گروهمند دی چې د تراژيدي بنسټ ديتي رامب (Dithyramb) او د کوميډي هغې د فاليک (Phallic) سرودونه دي، نوموړی ليکي: دا چې تراژيدي په اصل کې له بديهه ويلو څخه رامنځته شوې او د کوميډي بنسټ هم له همدغه ځايه اېښودل شوی و او خرگنديدا يې د فاليک ترانې وې، چې تر اوسه هم په ځينو سيمو کې معمول او دود دي؛ نو دي ته په کتلو تراژيدی هم ورو ورو له خپلو ځانگړو برخو سره پرمختيا وکړه او تر بدلون وروسته چې بايد کړی يې وای، نهايي صورت وموند او نور په هماغه حال پاتې شوه. گويا د انسانانو د ژوند په دوره کې د تراژيدي د پيدايښت د تاريخ اټکل په لومړي ځل همدلته ترسترگو کېږي. تراژيدۍ خپله وروستۍ بڼه چې د طبيعت غوښتنه يې وه ومونده او نور په هماغه حال پاتې شوه؛ کټ مټ د هغه انسان په څېر چې يووېشت کلنۍ ته ورسېږي، بيا يوازې په يو مطلق جبري ټکي پای مومي.

د ارسطو دغه نظر په لرغوني يونان کې خور او وکارول شو، دايو تيسيوس ژاکس اعلان وکړ چې د ديموستين خطابې د يونان د خطابو متکاملې او عالي بېلگې دي. کوانتي لين هم د فصاحت له پلوه د سيسرو ليکنې د کمال په لوړې پوړۍ کې وشمېرلې او پليوس پاترگولوس د ادب تاريخي تحول پر درېوو پړاوونو باندېووېشه: ۱) د غوړېدلو او کمال پړاو، ۲) نه بدلېدونکی پړاو، ۳) د جبري انحطاط پړاو.

د رنسانس د دورې همدغو مفکورو او نوې کلاسيکې کره کتنې پر ذهنونو واکمني پيل کړه، خو پر ادبي تاريخ باندې يې د اتلسمې پېړۍ تر نيمايي پورې اصولي او منظم انطباق نه تر سترگو کېږي، کله چې په اتلسمې پېړۍ کې د ژوند پوهنې (Biology) او ټولنپوهنې (Sociology) په ځانگو کې د ويکوبوفون او روسو په وسيله څېړنو پرمختگ وکړ، په ادبي تاريخ کې د تدريجي تحول نظريې هم پرمختگ وکړ. په ۱۷٦۳-۱۷ کال کې جان براون ((د شعر عمومي تاريخ)) په ۳مخ

## ادبي کره کتنه

# توربنگړی او څو کرښې

څېړندويه نازو کمال

هر کله چې کوم ناول، داستان يا کيسه لولم، داسې به کم راپېښ شوي وي چې هر اړخ ته يې دقيق فکر ونه کړم او د کره‌کتنې پر تله يې ونه تلم. پر ډېرو ناولونو او کيسو به مې څه نه وي ليکلي، خو داسې به هم نه وي شوي چې د تصويرونو، کرکټرو، مکالمو، پېښو او نورو برخو د ارزولو هڅه يې ونه کړم. زه معمولاً د کتابونو سريزې نه لولم، يواځې د هغو کتابو سريزې چې لنډې وي يا يې ليکوال راته منلی وي لولم يې. د اجمل پسرلي توربنگړی ناول مې د مطالعې لپاره انتخاب کړ، دا چې اجمل پسرلی پياوړی کيسه ليکوال او زما لپاره ايډيال کره‌کتونکی دی؛ نو د دې ناول لوستل مې له سريزې پيل کړل. کله مې چې ولوستل چې دا ناول د ليکوال څوارلس کلنه خواري ده، نو د کتاب لوستو ته مې تلوسه لا ډېره شوه او د لوستو پر مهال يې پرېښنودم چې يو څه پرې ونه ليکم. اجمل پسرلی د همدې کتاب په سريزه کې ليکي: ((ناقد که ليکوال ته لارښوونه نه شي کولی، هسې پانې توروي.)) زه نه پوهېږم د ناول په اړه به زما ليکل هسې پانې تورول وي، که گټور څه به هم ولري؟ نو خپله ليکنه په لاندې کرښو پيلوم:

توربنگړی د اجمل پسرلي نوی چاپ شوی ناول دی، چې په ۱۹-۲۰کم کال د سروش کتاب‌پلورنځي له خوا په ۱۸٦ مخونو کې خپور شوی دی. دا د ليکوال دويم ناول دی چې د شلمې پېړۍ د ورستيو کلونو حالات په کې انځور شوي دي. هغه وخت په کابل کې ژوند څرنگه و؟ ستونزې څه وې؟ د هغه وخت فقر، لوږه، د خلکو رواني فشارونه دا هر څه په کې بيان شوي دي او دا نتيجه ترې اخيستل شوې ده چې له کور بهر رواني فشارونه د کور دننه ژوند څرنگه ډېر ورې کوي.(۱)

اجمل پسرلی وايي: ((کيسه شبېه ده، څکه د حال بيان کوي او ناول ژوند دی چې د وطن له پېښو په کې افغان ليکوال بهر کېدای نه شي.))(۲)




ليکوال په دې ناول کې د وطن د هغه وخت ستونزې او شرايط په ښه توگه انځور کړي دي. روزي خان، د هغه مېرمن، پاچا، مومن، فاطمه او سلطان يې مرکزي کرکټرونه دي، چې داستان تر ډېره پر دوی راڅرخي او نور فرعي کرکټرونه هم لري چې د داستان په مخته وړو کې مرستندويه دي. د ناول داستان په دې ډول دی: د روزي خان کور غله وهي، روزي خان د خپل دوست پاچا په مرسته د دوی په گاونډ کې کور نيسي. د روزي خان زوی مومن او د پاچا لور فاطمه يو بل ته علاقه ښيي، خو د مومن د مور فاطمه نه خوښېږي، کله چې دوی د پاچا له گاونډ نه کډه کوي، فاطمه خبرېږي او جنجال ۲مخ

# د ژبې د ژوند چاپېريال (۱)



ژباړه او لنډيز: څېړنپوه مولاجان تنيوال

د يوې ژبې د کريکټر او طبعيت د پېژندنې ستونزه په ژبپوهنه کې خورا مهمه گڼل کېږي. يواځې د ژبې د کريکټر په اړه رښتينې پوهه دا ممکنوي چې د نورو پديدو سره د هغې اړيکې، پرمختگ او د انسانانو په ژوند کې د هغې رول وپېژني. دا ستونزه د ژبپوهنې په تاريخ کې په يوه نه يوه ډول حل شوه. د پوهېدو وړ ده چې (په دې اړه) وړاندې شوې تيورۍ د څېړونکو نظرونه منعکسوي. ژبه د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د يوې مادي- ميخانيکي نظريې تر اغېزې لاندې او د طبعي علومو د زيات پرمختگ له مخې د يوې بيولوژيکي پديدې په حيث وپېژندل شوه، څنگه چې موږ ليدلي دي سړی ژبه د يوه ارگانيزم لپاره په ازاده (ژوندۍ) بڼه ساتي. دا ژوندی موجود د يوه بل ژوندي موجود غوندې موجود وي، پرمختگ کوي، ويجاړېږي او په پای کې مري. وروسته خلک په دې نظر شول چې ژبه د انسانانو له خوا منځته راغلې ده. په دا منځ کې ژبپوهنيز جريانونه[1] داسې وپوهېدل چې ژبه د يوه شخص ذهني[2] ايجاد دی.

په کومه کچه چې د ژبې بنسټيزه او دقيقه پلټنه وشوه په هماغه اندازه دا حقيقت هم جوت شو چې ژبه يوه ټولنيزه پېښه او د ټولنې محصول دی. دغه فرضيه[3] چې ژبه يوه ټولنيزه پېښه ده زموږ د وخت د ډېرو ژبپوهانو په کارونو کې په پرله پسې توگه تر سترگو کېږي، خو د دې ادعا[4] څخه هم رښتينې پايلې را ونه وتلې او ژبپوهانو په عملي توگه په ټينگه سره د ژبې ټولنيز طبعيت ته پاملرنه و نه کړه او ډېر ځله يې ژبې ته په ټولنه پورې د نه تړلې پديدې په توگه کتلې دي.

**د ژبې ټولنيز کريکټر:** که چېرې موږ دا پلټو چې ژبه څنگه منځته راغلې ده او د تاريخ په اوږدو کې يې څنگه پرمختگ کړی دی په پای کې دې پايلې ته رسېږو چې ژبه د موجوديت، د ټولنې سره د تړاو او د دندې له مخې يوه ټولنيزه پېښه ده.

۱- ژبه په ټولنه کې منځته راغلې ده ترڅو د ټولې ټولنې اړتياوې پوره کړي. يوه عالم د خپل يوه اثر په يوه برخه کې وښوده چې د خبرتيا ضرورت د لومړي ځل لپاره د ډله‌ييز کار د کولو په پروسه کې راجوت شو. د يوه يواځيني شخص په واسطه د ژبې ايجادېدل د تصور څخه وتلې خبره ده. که چېرې ژبه يکړه او ځانته وي د پوهولو راپوهولو هيڅ ډول اړتيا نه حسوي. دا په خپله د منلو وړ ده چې که يوه شخص د پوهاوي لپاره يوه وسيله ايجاد کړې وای تر اوسه پورې به يې نه وای ساتلې او د هغې ايجادونکي[5] سره به غبرگه له منځه تللې وای.

که څه هم انساني ژبه نن ورځ هم لا بيولوژيکي ډډه لري، خو نه شي کېدای چې د يوې بيولوژيکي پديدې په سترگه ورته وکتل شي. د انسانانو بيولوژيکي خاصيتونه کولای شي چې د ټولنې څخه په يوه ۳مخ

# د مقالې ليکلو لارې چارې

ځلورمه برخه



ليکواله: مېرمن رياحي

ژباړه: څېړنيار فضل الرحمن عليزی

## درېيم گام

## د مقالې د عنوان (Tittle) ليکل

د مقالې سرليک( عنوان) د چاپ لپاره د مقالې د منلو او نه منلو په برخه کې بنسټيز رول لري، نو پر دې اساس بايد د څېړنې او د مقالې د سرليک د ټاکلو په وخت کې ډېره پاملرنه وشي. غوره به وي که وواېو چې د مقالې د عنوان ليکلو ډول په يوه موضوع کې د ليکوال د مبتدي او تبحر ښکارندويي کوي په يوه کرښه کې د مقالې سرليک ستاسو د ټول کار څرنگوالی روښانه کوي. يعنې د مقالې له سرليک څخه هم لوستونکی پوهېږي چې ليکوال پر موضوع څومره برلاسی دی؟ څومره چې د يوې مقالې سرليک لنډ وي، هغومره ښه او غوره وي.

### د مقالې د سرليک ليکلو اصول

د يوې مقالې د سرليک ليکلو په برخه کې لاندې اصول بايد په پام کې ونيول شي:

۱. د مقالې سرليک بايد د څېړنې او مطالعې بنسټيز فکر په ځان کې ولري.

۲. د مقالې سرليک بايد د څېړنې بنسټيز بدلون په ځان کې را ونغاړي؛ يعنې کله چې د څېړل شوې موضوع په اړه تر دې مخکې څېړنې شوې وي، د هغو څېړنو او نوې څېړنې ترمنځ توپير په ښه شي او لوستونکی پوه شي چې د پخوانۍ او اوسنۍ څېړنې ترمنځ څومره توپير موجود دی.

۳. سرليک بايد د مقالې د منځپانگې او د مقالې له اصلي هدفونو سره برابر وي.

۴. سرليک بايد روښانه وي او ابهام ونه لري.

۵. د مقالې عنوان بايد د امکان تر کچې د يوې خبري يا استفهامي جملې په شکل مطرح نه شي.

٦. عنوان بايد د پوښتنې په ډول نه وي؛ د يوې نيمگړې جملې يا ترکيب په ډول بايد بيان شي.

۷. د مقالې په عنوان کې بايد روانوالی، بلاغت او په ټول ترکيب کې يو ځانگړی وزن، آهنگ او جذابيت وي.

۸. په عنوان کې له لنډ ليکلو يا لنډيزونو، فورمولونو، له لنډو او نويو کلمو (داسې کلمې چې له هغو سره نور لوستونکي نابلده وي او يا له ځان څخه نوې جوړې شوې وي) څخه بايد ډډه وا نه خيستل؛ ځکه چې د نورو څېړونکو له لوري د پلټنې په وخت کې دغسې مقالې ته لاسرسی، کمزوری او ستونزمن کېږي.

۹. د مقالې عنوان بايد لنډ وي، مگر تر دې کچې هم بايد لنډ نه وي، چې د څېړنې موضوع د پېژندنې په برخه کې پاتې را شي.

۱۰. د مترادفو کلمو له تکرار څخه مخنيوي او د اضافي کلمو، لکه: «دا څېړنه په دې باره کې...»، «د څېړنې شاوخوا» او د انگليسي عنوانو په پيل کې د a, an, the په څېر کلمو څخه مخنيوي او د مقالې په عنوان کې بايد را نه وړل شي.

### د مقالې د سرليک(Tittle) د کلمو شمېر

هغه سرليک چې له اتو(۸) څخه لږې کلمې ولري ډېر ښه سرليک گڼل کېږي.

هغه سرليک چې له ۸ تر ۱۲ کلمو څخه جوړ ۳مخ

| لنډه کیسه |

اجمل پسرلی

# لمبه

شپه ده، تیاره ده، کرونا خپره ده. د پراګ د زاړه ښار کوڅې تشې دي. د دې ښار په زړه کې د چارلس د پله له سره ورته ګورم، لاندې په اوبو کې یو اوږد لرګی پروت دی، سیګل مرغان کتار پرې ناست دي. ځینو مرغانو ته لکه چې د ناستې ځای نه شته، پورته دورې وهي، کغېږي.

د مرغانو کغا ورکه شوه، نه پوهېږم چې چېرته به کښیناستلي وي. لاندې د بل پله په لور روان شوم. د دغو دوو پلونو ترمنځ لاره به تر کرونا مخکې دا مهال له بهرنیو او کورنیو داسې ډکه وه چې پل به دې له پله سره په وار اخیست، خو د ځان په رنګ خلک چې به مې لیدل، ویل به مې لکه چې یوازې نه یم؛ اوس څوک نه وینم.

د دې بل پله له سره لاندې د سیند په اوږدو د غځېدلي پارک څراغونه همداسې ښکاري لکه هغه پر لرګي د سیګل مرغانو کتار. پارک ته په کږو وږو زینو ورښکته شوم. دا څراغونه د پخوانی زماني شمدانونو ته ورته دي. په منځ کې یې رڼا داسې ده لکه شمال ته چې لمبه کږه شوې وي. پراګ له لرغونو شیانو ډک دی، ودې شي چې دا څراغونه هم پخواني وي. د څراغ تر هرې پایې لاندې چوکۍ ایښې دي. د ستنو ترمنځ به ښایي دیرش متره فاصله وي. له یوې بلې، له بلې بلې ته، همداسې مخته پسې تلم چې یو ځای لږ تیاره شوه، یو څراغ مړ و، ترې لاندې پر چوکۍ یو سړی ناست و. ده لاس خپلې مخې ته تیر کړ:

-ها خواشه

ما شاته سیند ته مخ واړاوه، پورې خواته د سړک د غاړې د څراغونو رڼا پر اوبو پرته وه. دې سړي ته مې وویل:

-ښه ښکاري

په دې خبره پښیمانه شوم ځکه چې د ډېرو چکانو نه خوښېږي چې نا اشنا ورسره وغږېږي، خو ده پوښتنه وکړه:

-ولې ښه ښکاري؟

-اوبه بریښي

-له دې ځایه هاغه ځای ښه ښکاري که هلته ورشې دا ځای به درته ښه ښکاري.

ما پورته مړه څراغ ته وکتل، ده په خندا وویل:

«ښه دی چې دې ته یې نه دی پام شوی چې جوړ یې کړي»

د اوبو پر سر د سړک د پورې غاړې د هر څراغ رڼا داسې ښکارېده لکه د بېل لمر وړانګې چې پر اوبو پرېوتې وي.

دې سړي ته مې وویل:

-داسې مخامخ لاره شته چې هلته پورته ورشم؟

-هو لاره شته خو که هلته ولاړې دې تیارې ته به دې بیا زړه کیږي

لاس مې پورته کړ، دی هم پاڅېده زه له اوبو سره روان شوم، دی دې بلې خوا ته په تیاره کې ورک شو. کوز سر پارک نرۍ شو، د سیند د اوبو غړ د یوه نیم موټر په غږونو کې ټیټېده او پورته لا یو مرغه د اوبو پر سر څرخیده.

# تور بنګړی او...

کوي، چې د خلکو له شرمه او ډاره مومن له فاطمې سره واده کوي او همدا بهرني فشارونه د دوی کورنی ژوند خرابوي چې د دې ناول پایله لوستونکو ته پرېږدو خپله به یې ولولي، د دې ناول په نورو برخو به لږ بحث وکړو.

د ناول لیکوال په خپله د ناول راوي دی چې د ناول کیسه راته کوي، خو بیا هم د داستان روایتي بڼه دومره زیاته نه ده، چې ناول ستړی کوونکی شي. د ناول ژبه ساده او روانه ده، کومه پېچلتیا نه لري چې لوستونکي د لوستو پر مهال له ابهام سره مخامخ شي. د بېلګې په توګه: ((موټروان له نسوارو ډکه خوله تینګه ونیوله. مومن ور ټیټ شو بوجی یې په غېږ کې واخیسته د کور دننه یې د وره په خوله کې کېښوده. غولی کوچنی ورته ښکاره شو. دیارلس کاله مخکې چې دوی پاکستان ته مهاجر شوي وو هغه وخت ده ته د کور انګڼ لوی ښکارېده.)) (۱: ۱۵مخ)

د پورتنۍ بېلګې په څېر د ناول ټول نثر په همدې ډول دی، کومه سختي نه لري. د ناول پیل په دې کرښو کېږي: ((په هدیره کې د ګور پر لور رهي وه. شاوخوا څوک نه و، د جمرود د دښتې له لوري د کچه ګړۍ پر کمپ رامات تاوده شمال ته یې څادر له سره ښوېده خو دې په دواړو لاسو تکیه کړې و. د ګڼو خلکو څرپې یې اورېده چې پر پوټلنه مځکه درانه ګامونه پسې اخلي، شاته یې نه کتل، له لرې یې غبرګې سترګې یوه ګور ته نیولې وې، څرپ څرپ زیات شو، د دې په باور د شمال غږ و.)) (۱: ۷مخ)

پورتنۍ کرښې تلوسه لري او لوستونکي دې ته هڅوي چې د ناول لوستو ته دوام ورکړي. تصویر د داستاني ادب مهم اصل دی، د انځورونو له پلوه دا ناول ډېر په زړه پورې او غني دی، همدا وجه ده چې د ناول د لوستو پر مهال لوستونکي نه ستړي کېږي او هره صحنه مو داسې په ذهن کې تداعي کېږي، لکه کټ مټ چې زموږ د سترګو پر وړاندې پېښېږي؛ لکه ((روزي خان په نوک ګیلم ګیراوه، مومن په غوږ کې ګوته وهله، د بخار دیګ بخار نیولی و، د شپیلکي په هسک او ټیټ اواز یې د څنګ له کوټې د ښځو غږ سره غلی کاوه، د دیګ غوړ بوی له کړکۍ را الوتي شمال سره ورک کړ، بیا به خپور شو.)) (۱: ۳۷مخ)

په یو ځای کې لولو: ((په کیسه کې د بیاني ژبې اړتیا وي، خو چې تر اړتیا زیاته شي او د تصویرونو، مکالمو او پېښو پېټی هم ور پر غاړه شي؛ نو کیسه بې خونده کوي او لوستونکي یې نه لولي. په کیسه کې د بیاني ژبې اړتیا د بېلابېلو صحنو ترمنځ د تړاو لپاره پیدا کېږي.))(۳: ۵۲مخ)

دا ناول هم په دې ستړی کوونکی نه دی، چې نه یې مکالمې اوږدې دي او نه لیکوال یا راوي دومره درته غږېږي چې لوستونکی د زړه تنګون حس پیدا کړي، بلکې د صحنو د تړاو لپاره بیاني ژبه کارول شوې ده، ویلی شو چې د راوي خبرې او ډیالوګونه تناسب سره لري. د بېلګې په توګه:

((ـ پرېږده یې چې ډوډۍ سمه وخوري

ـ مه کوه چې یو چکر ورکړم

ـ د مجاهد وچه ډوډۍ په لاس کې وه، هغه یې پر دسترخوان واچوله، مومن ته یې لاس ورکړ، مومن په منډه منډه پر زینو له مجاهد سره ښکته روان شو، روزي خان لا د پاچا دوی دیوال په خپېره واهه. د پاچا غږ شو:

ـ راځه راځه ته خو پردی نه یې!

چې څرنګه روزي خان کښېناست پاچا غاړې تازه کړې... ـ پرون ناوخته له رئیس صاحب سره په مؤسسه کې وم...))(۱: ۴۴مخ)

کرکټر ته باید د هغه د ټولنیز موقف پر اساس مکالمې ورکړل شي، هر کرکټر په خپله ژبه غږول د داستاني ادب له اصولو سره برابر کار دی او د دې ناول کرکټرونه دا ښېګڼه لري. یو ځای کې د کراچیوان له خولې لیکي چې روزي خان سره غږېږي:

((ـ بیغم باش ایتو بسته نه کدیم نه میفته.

ـ از شمالي استی؟

ـ نی

ـ به خانه ای کرایی میری؟

ـ آ

ـ چند است کرایش؟ روزي خان څه ونه ویل. کراچیوان ورته وویل:

ـ برار بسیار زنګت کره.. (۱: ۹۵مخ)

په بل ځای کې د کلینډر خبرې را اخلي او لیکي:

((ـ مال تان زیات است برده نه میتانیم. روزي خان ورته وویل:

ـ برادر مسلماني خوب است سیل کو پنج نفر استیم. کلینډر د مخې خواته تېر شو او د (برو، برو راهیته بزن کاکا) له ویلو سره یې ناره کړه، شارو، شارو، شارو...)) (۱: ۳۴مخ)

مور چې به کله د پوهنتون په دوره کې له پوهنتونه رخصت شو، نجونې به تر هغه په ښاري موټرو کې په تمه وې چې موټر ډک شي نو په همدې خاطر به ځینو پر موټروان غږ کړ، چې سواری پیدا کړه چې ناوخته شوه. د دې ناول په یو ځای کې یوه مکالمه لولو: ((په موټر کې... زنانه وو آواز لوړ کړ:

ـ یک کمی مسلمانی خوب اس.

ـ بان بیچارا ره غریباره.

ـ بانش که موتر پر شوه.. د مخکني سیټ له ورسۍ یوه سړي چې تور باج یې تړلی و سر راواېست، کلینډر ته یې وویل:

ـ در بالا یې کړه چې موټر ډک شي، تر کله به ولاړ یو د هغه زو...))(۱: ۳۵مخ)

پورتنۍ مکالمې د کابل ښار هغه صحنې رایادوي چې بیا بیا ورسره مخامخ شوي یو، آن دا چې یو کرکټر په نیمه دري او نیمه پښتو غږېږي لا حقیقي راښکاري، نو ویلی شو چې د داسې مکالمو راوړل چې کابل ښار ځینې خاطرې کټ مټ د لوستونکو ذهن ته دروي، د لیکوال ښېګڼه ګڼلی شو. د ځینو کرکټرو له مکالمو داسې نه برېښي چې دوی دې لوستې وي، خو دوی ځینې داسې کلمې کاروي چې آن ګومان مې نه شي چې کم لوستې کسان دې هم وکاروي لکه: (خیر اس برادر) دلته باید روزي خان د برادر پر ځای بیادر ویلی وای. یا هم د روزي خان د مېرمنې بېلابېل ډیالوګونه دي چې وایي: ((ګوره څوک هلک دغسې بې دریغه وهي؟!))، ((دغه معذوره مور یې هم په دې پوهېږي...))، ((دغه هیله مې مه باسه چې د سلطان جان حال به نه اخلې)) او که مور د همدې کرکټرې نورو مکالمو ته متوجې کېږو نو دا خبره کولی شو چې د نالوستې یا کم لوستې مېرمنې له خولې څخه د (بې دریغه، معذوره او هیلې) کلمو استعمال لږ د تأمل وړ برېښي.

هر ټولنه ځینې باورونه او دودنه لري، په دې ناول کې هم داسې باورونه انځور شوي چې آن اوس هم زموږ په ټولنه کې موجود دي. د ځینو بېلګې یې راړوو: ((خوابښې یې پرته له دې چې څه ووایي یوه غټه چونډۍ سره مرچ ور واخیستل په اور یې ودوړول. د سوځېدلو مرچو تریخ بوی د لیلا سپږمې وتخنولې پرنجی یې شو. خوابښې یې لاسونه سره خلاص کړل: دغې بې شرمې دغسې تکه توره غوټه چرګه کورته ننویسته. د دوی له کوډو ډارېږم دغه سره مرچ او د اوړې پوست کله کله ته هم لوګی کوه.)) (۱: ۵۲مخ)

یا ((خوابښې یې د هغې له لاسه جارو کش کړ: د مسافر زوی بلا مې دې ګرده ورده دروګرځي تراوسه پوه نه شوې چې ماښام جارو ښه وي که نه وي!))(۱: ۶۱مخ)

په پورته بېلګو کې هغه باورونه وینو چې اوس هم زموږ په ټولنه کې دود دي، اوسمهال هم مشران د کورنیو غړو ته اجازه نه ورکوي چې ماښام یا شپې دې جارو وکړي، آن ګناه یې بولي.

د دې ناول د کرکټرونو یوه ښېګڼه دا ده چې کرکټرونه یې خوځنده دي، د ډیالوګونو پر مهال بېلابېل اعمال او کړنې ترسره کوي؛ لکه ((پاچا د خپل تور واسکټ د ښۍ خوا له جیبه سپین رومیال وراخیست، د جیب پر سر یې کښېنستې ایرې پرې پاکې کړې:

- هر څه چې کمبود لرې سرې وخت غږ کوه.

روزي خان پاچا ته ورناره کړه:

- صاحب څه کړپ مو سره جوړ کړی دی؟

- سودا مې شوه چې ډوډۍ کمه نه شي.

اشپز صافي په اوږه واچاوه:

- پیازو ته لږ هغه یم

روزي خان په تروه تنده وویل:

- څه کوې چارک بالا دوه منه سپین پیاز و او چارک کم من دې سره.

پاچا وروځې پورته کش کړې:

- څومره دې نور په کار دي؟

اشپز صافي لکه د اتڼ رومیال پورته غورځار کړ:

- بس دوه درې چارکه نور له سره تېر دي.))(۱: ۱۳۴- ۱۳۵مخونه)

د غږېدا پر مهال د کرکټرونو داسې کړنې لکه ژوندی انسان یې چې د خبرو پر مهال ترسره کوي، د کرکټرونو د رښتیاتوب انځور راکوي، لکه ژوندی انسان چې وینو. په حقیقي ژوند کې موږ د انسان له ذهن او زړه نه، نه خبرېږو چې په زړه او ذهن کې یې څه دي یا څه تېرېږي؟ کرکټر هم باید همداسې انځور شي، لکه حقیقي انسان او لوستونکي ته کرکټر باید مصنوعي ورښکاره نه شي، نو موږ هم باید د کرکټر له ذهن او زړه نه خبر ونه اوسو. دلته یو دوې بېلګې راوړو:

((مومن مخ واړاوه، په زړه کې ور تېر شول چې دوی ونه وایي چې دی څرنګه سیل ته ولاړ دی.)) یا ((په سجده کې یې په زړه کې وویل: نو غسل ونه شو خدایه)) (۱: ۳۸مخ)

دا سمه ده چې لیکوال کرکټر پنځوي، خو په داسې بڼه یې پنځوي چې رښتینی وبرېښي، که لیکوال د کرکټر له ذهنه یا زړه څخه خبر وي، چې د کرکټر په ذهن یا زړه کې دا خبره تېره شوه یا یې زړه کې وویل، نو څرنګه به یو کرکټر حقیقي معلوم شي، که لیکوال لیکلي وای چې (له لږ چورت یا فکره وروسته د مومن شونډې وخوځېدې چې دوی ونه وایي چې دی څرنګه سیل ته ولاړ دی) او همداسې نورو مواردو کې هم لیکوال باید دې ته ورته بڼې کارولې وای.

ناول یا کیسه لیکوال باید خپل داستان ته دومره پاملرنه وکړي چې د پېښو یا خبرو ترمنځ یې ټکر موجود نه وي. د وخت سخت شرایط او بل دا چې فاطمه او مومن دې ته ډېر پام کوي چې څوک یې سره ونه ویني، آن فاطمه د مومن له مور څخه وېره هم لري، خو کله چې د مومن کورنۍ غواړي چې د فاطمې له ګاونډ څخه کډه وکړي، فاطمه بد حال جوړوي، د فاطمې او د مومن مور ډیالوګونه لولو:

((ـ له خیره زاتي ستا له دې ویتو وازو سترګو پناه کېږو.

ـ ښه زما د سترګو نه چېرته ځې؟

ـ چې ستا په دې کږو سترګو، نه زما سترګې ولګېږي نه مې د زوی... فاطمې په ژنه لاس تېر کړ: والله که خو خلاصه شې. د مومن مور دې خوا هاخوا وزنګېده: وی بوره وراره یې کړې. فاطمه د مومن د مور په ترلې غوټه کښیناسته. د مومن مور ورته وویل:

ـ پورته شه بې شرمې. فاطمې بد بد ورته کتل: ـ زه دې نازولې زوی ته انتظار یم چې څنګه ځې.)) (۱: ۸۹مخ)

په هغسې بندیزونو او سختو شرایطو کې، په دهلیز کې د فاطمې ناڅاپي داسې چلن چې آن د مومن پلار ته هم وایي: ((هغې وخندل، ټېر یې وواهه: ماته وایې؟! ـ هو نو پلار ته مې وایم.

ـ ورشه زوی ته دې وایه)) (۱: ۹۱مخ)

زما لپاره د تأمل وړ و. زموږ د ټولنې په هغسې بندیزونو او سختو حالاتو کې داسې بې باکي چې نه له کوره بهر د شرایطو او نه هم د کورنۍ وېره ولري، د لوستونکي زړه ته نه لوېږي. زما په باور په هغسې شرایطو کې داسې جرأت او فکر آسانه نه دی.

دا ناول تر عمومي موضوع ور هاخوا ځینې مثبت پیغامونه هم راکوي؛ لکه ((هغه لنډه لنډه ساه اخیسته بیا یې وویل: ښۍ پښه مې هم بې حسه راته معلومه شوه، چرت مې ډېر خراب شو، ومې کتل دا بله پښه خو بیخي نه شته، نو لکه ضعف چې رابانډې راشي... عبدالباقي سترګې پټې کړې بیا یې وویل: لږ څنډ وروسته مې ځان قانع کړ چې ژوند دی. دغه قناعت دا دی تر ننه له هغه ډېر خپګانه ایستلی یم.)) (۱: ۱۴۹مخ)

یا ((د عبدالباقي چې له درده سترګې سره ورغلې وې، ویې ویل: غم کمال نه دی، خوشحالي پیدا کول کمال دی.))(۱: ۱۴۹مخ)

پورتنۍ بېلګې موږ ته دا پیغام راکوي، چې قناعت انسان له ډېر خپګانه ژغوري. بل دا چې غم په خپله راځي، په خوشحالۍ پسې موږ ځو او پیدا کوو یې چې همدا موندنه کمال دی. په بل ځای کې لیکي: ((عبدالباقي وویل: که راتلونکې ته وګورو او په تېر کې ځان ایسار نه کړو، په هغه تېر کې چې هیڅ شي بدلون په کې نه شي راوستی، بیا دا همت هر څوک لرلی شي.)) (۱: ۱۴۹مخ)

په پورتنیو بېلګو کې موږ مثبت پیغامونه لولو او دا د لیکوال کمال بولم چې په ستونزمنو حالاتو کې ژوند لوری درښیي، خو که داستاني منطق ته تم شو، نو په داسې یو حالت کې چې د انسان لاس او پښې پرې شوې وي، طبعاً چې نور خلک به د همت او تسلیت خبرې ورته کوي، دلته برعکس وینو، چې نور کرکټرونه عبدالباقي ته، چې لاس او پښې یې قطع شوې، وایي هر څوک دا همت نه شي لرلی، لکه ته یې چې لرې، خو عبدالباقي (چې له سخت حالت سره مخامخ دی، آن دا چې لا هم درد احساسوي) د مثبت فکر او همت خبرې کوي، نو داستاني منطق موږ ته دا وایي چې په دې صحنو کې باید هغه چاته همت او تسلیت ورکړل شوی وای چې د وجود غړي یې له لاسه ورکړي دي.

ناول په فکري او فني لحاظ ډېر څه لري، هر څومره لیکل چې پرې وکړې، پرې کېدای شي خو زه په همدومره بسنه کوم. په پای کې دومره وایم، چې د دې ناول لوستنې ځانګړی تأثر درلود، ډېرې صحنې یې راباندې حس کړې، آن ځینو صحنو یې د ماشومتوب خوږې شېبې بیا- بیا راباندې کتلي دي، نو توربنګړی پښتو داستاني ادب ته یوه غوره اضافه بولم، په دې هیله چې د لیکوال یې دې ته ورته نورې پنځونې هم ولولو.

**مأخذونه:**


۱ـ پسرلی، اجمل. توربنګړی، سروش کتابپلورنځی، لومړی چاپ، ۲۰۱۹م کال.

۲ـ پسرلی، اجمل. لیکوال، پراګ، ۱۲/۱/۲۰۲۱.

۳ـ ښکلی، اجمل. څو انتخابه، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ل کال.

زېری
علمي، څېړنيزه او ادبي پښتو ورځنۍ جريده
د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي
د ۱۳۹۹ ل.کال د مرغومي مياشت | ۱۹- ۲۰مه ګڼه | پرله پسې ۳٦۳- ۳٦۴مه ګڼه
د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز څېړنيز ارګان
مسئول مدير: څېړندوی احسان الحق کبير
کتنپلاوی: څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير،
څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړنيار لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.
د اړيکي شمېره: (۹۳+)۷۴۴۴۸۷۳۳۵
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.
www.asa.gov.af
د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان
د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک



څېړنوال محمد آصف احمدزی

### د خيرالبيان پښتو برخه چاپ شوه

محمد معصوم هوتک په ۱۳۹٦هـ. ش کال کې د خيرالبيان بشپړه نسخه چې په څلورو ژبو وه، تدوين او چاپ کړه.




اوس يې يوازې د خيرالبيان پښتو متن برابر کړی.

د خيرالبيان پښتو متن په کندهار کې د علامه رشاد څېړندويې ټولنې له خوا په ۳٦۰ مخونو کې پر سپين کاغذ، ډبله وقايه او ښه کيفيت چاپ او خپور شوی دی.

### سميع الدين افغاني مړ شو

ليکوال او شاعر سميع الدين افغاني په جرمني کې



د ۱۳۹۹هـ. ش کال د مرغومي پر ۲مه (د ۲۰۲۰م کال د ډسمبر ۲۲مه) وفات شو.

"انا لله و اناالیه راجعون"

سميع الدين افغاني د مروحوم مولانا سعيد افغاني زوی و.

### د فرهنګي کمېټې لومړنی ناسته جوړه شوه

د فرهنګي حوزې د اړوندو بنسټونو د لا زياتې



همغږۍ په موخه د فرهنګي کمېټې لومړنی ناسته د جمهوري رياست د دويم مرستيال استاد سرور دانش په رياست رسماً پرانيستل شوه.

د يادې کمېټې لومړنی ناسته د مرغومي پر ۳مه د چهارشنبې په ورځ له غرمې وروسته د جمهوري رياست د دويم مرستيال او د يادې کمېټې د رئيس سرور دانش په رياست د صدارت عظمی په مانۍ کې جوړه شوه.

د جمهور رئيس مرستيال د ناستې په پيل کې د فرهنګ اهميت ته په اشارې سره وويل چې د هر ملت او هرې ټولنې معنوي حيات په فرهنګ پورې تړلی دی او يوه ټولنه پرته له فرهنګه مړه ده.

فرهنګي کمېټه د جمهوري رياست د عالي مقام د ۱۰/۸/۱۳۹۹ نېټې د ۱۹۹۵ ګڼه حکم پر اساس او د جمهوري رياست د دويم مرستيال سرور دانش په رياست جوړه شوې ده.

ياده کمېټه د فرهنګي برخې د اړوندو بنسټونو د همغږۍ، د ملموسو او نالملموسو فرهنګي او تاريخي ميراثونو ته د ځانګړې توجه، پلټنو، د لرغونپېژندنې د څېړنو، د ادبي او هنري توليداتو د پراختيا، له فرهنګي پانګونو او ظرفيتونو د ساتنې او په دې برخه کې د موجودو ننګونو او ستونزو د ارزونو په موخه ايجاد شوې ده.

### ((شناخت هند در ادبيات افغاني قرن هفدهم، در پرتو آثار خوشحال خان ختک))

د هند په جواهر لعل نهرو پوهنتون کې د پښتو ژبې استاد محمد انور خيري د ((شناخت هند در ادبيات افغاني قرن هفدهم، در پرتو آثار خوشحال خان ختک)) په نوم د دکتورا (Ph.D.) له ډيزرټېشن څخه د مرغومي پر ۹مه برياليٰ دفاع وکړه.



په خپله خيري وايي، د نهرو پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو پارسي او مرکزي اسيا د مطالعاتو له ځانګړې څخه يې د خپل تيزس دفاع وکړه. د ده لارښود استاد پروفيسور عين الحسن و.

### د سولې او يووالي په نوم مشاعره جوړه شوه

په لوګر کې د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په همکارۍ



او د لوګر د هوډمنو ځوانانو په نوښت د سولې او يووالي مشاعره د مرغومي پر ۱۰مه ترسره شوه.

### کندهار کې د شاعر اکبر نعمتي د دوو شعري ټولګو مخکتنه وشوه

د کندهار په اطلاعات او فرهنګ رياست کې د مرغومي پر ۱۱مه د محلي شاعر محمد اکبر نعمتي د دوو شعري ټولګو د مخکتنې لپاره غونډه جوړه شوه، چې په دې مخکتنه کې د کندهار پوهنتون يو شمېر استادانو، د شعر او ادب مينه والو او فرهنګيانو ګډون کړی وو.



ويناوالو د شاعر محمد اکبر نعمتي د دوو شعري ټولګو "خوند او پند" او "د فکر البم" پر شعرونو هر اړخيزې خبرې وکړې، د شعرونو ښه او نيمګړې اړخونه يې بيان کړل او هم يې د چاپ شوو شعرونو معنوي ارزښت په ډاګه کړ.

### کوټه کې د سليمان لايق يادغونډه جوړه شوه

په کوټه کې د افغانستان د نوميالي شاعر، ليکوال او سياستوال سليمان لايق د هنري او ادبي خدمتونو د ستاينې او ارزونې لپاره غونډه جوړه شوه چې ګڼو ليکوالو په کې د نومړي پر کار او ژوند مقالې واورولې او ويناوې يې وکړې.



دغه غونډه د دوو ادبي ټولنو پښتون ادبي غورځنګ او نړيوالي پښتو مرکې په زيار د مرغومي پر ۱۳مه جوړه شوې وه چې د پښتونخوا د ګڼو سيمو په ګډون د بلوچستان د زياتو پښتني سيمو ليکوال، شاعران، د ادب او سياست مينه وال هم ورته راغلي وو.

### د استاد رفيع د ژوند، څېړنيزو کارونو او آثارو نمانځنه وشوه

د تاريخ اونۍ ۲۰۲۱ پرانيستونکي مراسم او د استاد حبيب‌الله رفيع د ژوند، څېړنيزو کارونو او آثارو درناوی د مرغومي پر ۱۴مه د افغانستان په ملي موزيم کې ترسره شول.



د تاريخ اونۍ دغه دويم کلنی پروګرام د ((انسان)) څېړنيزې مؤسسې له لوري، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د افغانستان د مطالعاتو امريکايي انستيتوت او د افغانستان ملي موزيم په همکارۍ ترسره شول.

په دې غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست استاد حبيب الله رفيع ته د هغه د تاريخي، څېړنيزو، علمي او فرهنګي کړنو د قدردانۍ په مناسبت د ستاينې تنديس ورکړ.

استاد رفيع د غونډې له جوړوونکو څخه په مننې کولو سره وويل، افغانستان يو تاريخي او تاريخ جوړوونکی هېواد دی او بايد چې خپل تاريخ ته درنښت وکړو.

### د اوزبکي او ترکمني ژبو د رسمي کېدو د اوولسمې کاليزې په وياړ غونډه جوړه شوه

د هېواد په اساسي قانون کې د اوزبکي او ترکمني ژبو د رسمي کېدو د اوولسمې کاليزې په وياړ د مرغومي پر ۱۵مه په کابل کې د درنښت غونډه جوړه شوه.



په دې غونډه کې ويناوالو، اوزبکي او ترکمني ژبې د هېواد له تاريخي ژبو څخه وبللې او د دغو ژبو پر پياوړتيا يې ټينګار وکړ.

### د ملا فيض محمد کاتب د نوي‌يم تلين درناوی وشو

د ملا فيض محمد کاتب د نوي‌يم تلين درناوی په اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې د مرغومي پر ۱۷مه وشو.

د پوهنتون استاد قنبرعلي تابش د فيض محمد کاتب هزاره د آثارو د پېژندنې په اړه وويل، هغه د دربار واقعه ليکونکی و چې بايد تاريخ د دربار په خوښه وليکي، خو د پټکارۍ له فن او لارو چارو څخه په استفادې سره يې د افغانستان واقعيتونه په تاريخ کې درج کړي دي.



د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړي استاد حبيب الله رفيع د فيض کاتب د شخصيت په اړه مقاله ولوستله او ويې ويل چې د هغه په آثارو کې ځينې پېښې سانسور شوې دي.

دا غونډه "انسان بنسټ" د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په همکارۍ د تاريخ اونۍ په مناسبت جوړه کړې وه.

*سرچينه: https://www.facebook.com/moic.af*

### کابل پوهنتون کې دوه ډيزرټېشنونه دفاع شول

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوو استادانو پوهنوال بخت مير وزيري او پوهنوال محمد قسيم چمتو د دکتورا د ډيزرټېشنونو دفاعيه غونډه د مرغومي پر ۲۴مه جوړه شوه.

د استاد وزيري د ډيزرټېشن موضوع "د پښتو تشريحي ګرامرونو د خپلواکو مورفيمونو پرتليزه



څېړنه" چې لارښوده استاده يې ډاکټر زرغونه رښتين زيور وه. د استاد چمتو د ډيزرټېشن موضوع بيا "د پښتو ژبې فونولوژيکي او مورفولوژيکي بدلون" وه او لارښود استاد يې پوهاند محمد صابر خويشکی و.

دوی دواړو خپلې موضوع ګانې د ژوري هيأت په وړاندې ارايه کړې او د هيأت له خوا يې دفاعيې مثبتې وارزول شوې.

### د بېنوا د ۳٦م تلين په مناسبت مشاعره وشوه

د فاضل استاد عبدالرؤف بېنوا د شپږ دېرشم تلين په مناسبت مشاعره د مرغومي پر ۲۵مه جوړه شوه.



دغه پروګرام د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست کې جوړ شو چې د کندهار ځو تنو مسئولينو، د پوهنتون استادانو، ليکوالانو، شاعرانو او فرهنګيانو ګډون کړی وو.

د دې پروګرام په لومړۍ برخه کې ويناوې او مقالې ولوستل شوې او وروسته مشاعره وشوه.

### ((په پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه)) اثر مخکتنه وشوه

«په پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه» کتاب چې مرحومې څېړنوالې ګل غوټۍ خاورې ليکلی، د مخکتنې غونډه يې د مرغومي پر ۲۹مه د دوشنبې پر ورځ د افغانستان د قلم ټولنې له خوا د علومو اکاډمي په تالار کې جوړه شوه.



په دغې غونډه کې د علومو اکاډمۍ علمي غړو، د فرهنګ او ادب مينه والو او د غوټۍ خاورې د کورنۍ غړو ګډون کړی وو.

دغه اثر د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا چاپ شوی چې ۴۸۵ مخونه او پر سريزې سربېره ۷ څپرکي، پايله او وړانديزونه لري.

لومړۍ څېړندوی نازو کمال د آغلې ګل غوټۍ خاورې ژوند ليک ولوستل ورپسې څېړنوال فريدالله نوري، څېړنوال سيد نظيم سيدي، څېړنوال محمد آصف احمدزی، پوهنيار ګل رحمان رحماني، څېړنپوه محمد نبي صلاحي، څېړنيار ياسر پاچا، څېړنوال شهزاده توحيدمل او څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي د دې کتاب په اړه د غونډې ګډونوالو ته خبرې وکړې او د غونډې په پای کې د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت د نشراتو رئيس عبدالوحيد خاورې د ګل غوټۍ خاورې خاطرات له ګډونوالو سره شريک او هم يې د هغې د کورنۍ په استازيتوب د غونډې له جوړونکو او ګډونوالو مننه وکړه.

### تازه پښتو چاپ شوي آثار

**د مفتي عبدالحنان داعي کليات:** دغه آثر د بشرمل زرغون په زيار ترتيب او تدوين شوی او د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ۴۹۷ مخونو کې چاپ شو.




دا کليات له څو خطي او چاپي نسخو څخه د متن څېړنې د معاصرو روشونو په رڼا کې ترتيب، تنظيم او څېړل شوی او په پای کې ستونزمن وييونه يې هم معنا شوي دي.

**په پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه:** دغه اثر څېړنوالې ګل غوټۍ خاورې ليکلی چې د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ۴۸۵ مخونو کې چاپ شوی دی.

په دې اثر کې د لنډې کيسې د پيدايښت څرنګوالی او ځانګړنې بيان شوي، په پښتونخوا کې د لنډې کيسې ځينې څېړې معرفي شوي، په پښتو لنډو کيسو کې سمبولونه څېړل شوي،




له پښتو نه په نورو او له نورو ژبو څخه پښتو ته د ژباړل شويو لنډو کيسو په اړه څېړنه شوې او په پای کې څو پښتو لنډې کيسې تحليل شوې دي.

متن څېړونکي د متني څېړنو په مټ او په خپلو علمي هڅو د داعي غزلې، قطعې، مقامونه، داستانونه، چاربيتې، بګتۍ، لوبې... او پارسي ويناوې ترتيب او اوډلي دي.

**د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود:** د څېړنپوه نصرالله ناصر اثر دی چې په ۲۵۳ مخونو کې د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا د دويم ځل لپاره چاپ شو.

د دغه اثر په لومړي څپرکي کې د منابعو او مأخذونو ارزونه راغلې، په دويم څپرکي کې کلتور او فولکلور باندې بحث شوی، په درېيم څپرکي کې د فولکلور ټولونې لارې چارې ښودل شوي، په څلورم څپرکي کې د فولکلور ټولونې او څېړنې پسمنظر ته عمومي کتنه شوې ده، په پنځم




څپرکي کې پر دې موضوعاتو: پښتني فولکلور د کوم منل شوي روش پر اساس ټول شوی؟ او تراوسه موږ د پښتني فولکلور کومې چاپي مجموعې لرو؟ بحث شوی دی.

په دې وروستي څپرکي کې د پښتني فولکلور د ټولو چاپي مجموعو فهرست او معلومات راغلي چې په لومړۍ برخه کې د ختيځپوهانو له خوا د پښتني فولکلور ټولې شوې ۱۲ چاپي مجموعې، دويمه برخه کې په افغانستان کې د پښتني فوکلور ټولې شوې ٦٦ چاپي مجموعې او په درېيمه برخه کې په لره پښتونخوا کې د پښتني فولکلور ټولې شوې ۲۱ چاپي مجموعې معرفي شوې دي.